پښتو

# حُوري غوره دي که جنّتي ښځې؟




شيخ طريقت، اَمير اَهلسنّت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

**مُحَمّد اِلياس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العاليه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ

اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِكمت دروازے برسيره [يعني بيرته] كړې او په مونږه خپل رحمت رانازل كړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفكر بيروت)

طلب غم
مدينہ بقيع
ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالے نوم: حُوري غوره دي كه جنّتي ښځې؟

اول ځل: ............................................

تعداد: .....................

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ كولو اجازت نشته**

**كتاب اخستونكي توجّه اوكړئ**

كه د كتاب په طباعت كښې څه ښكاره خامي وي يا پاڼرې كمې وي يا په بائنډِنګ كښې مخكښې وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوكړئ.

# حُورې غوره دي که جنَّتي ښځې؟

شیخِ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَه دا رِساله ”حُورې غوره دي که جنَّتي ښځې؟“ په اردو ژبه کښې لیکلې ده.

**مجلِسِ** تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمے، زیاتے اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه **مجلِس** تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش:

## مجلِسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

(دا مضمون د ”نیکی کی دعوت“ د کتاب 291 نه تر 301 صفحې پورې نه اخستے شوے دے)

# حُورې غوره دي که جنّتي ښځې؟

**دُعائے عطار:** یا رَبَّ المصطفٰے خوک چې دا رساله ”حُورې غوره دي که جنّتي ښځې“ اولولي که واورې هغوئي ته د ډېرو نیکو کولو، د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکۍ د دعوت عام کولو توفیق عطا کړې او هغوئي بے حسابه جنّت ته بوځې۔

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د حضرت عبد الرحمان بن عَوف رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نه روایت دے چې نبئ پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو ځل بهر تشریف یوړو نو زه وریسې هم وروستو راروان شوم۔ هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو باغ ته لاړل او سجدې ته ئې تشریف یوړلو، هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سجده دومره اوږده کړه چې ما سره اندیښنه شوه چې هسې نه چې چرته الله پاک د (هغوئي) رُوح مبارک نه وي قبضه کړے! زه ورنزدې شوم او په غور سره مې ورته اوکتل، چې کله ئې سر مبارک راوچت کړو نو اوئې فرمائیل: ” اے عبد الرحمانه! څه اوشو؟“ ما چې خپله اندیښنه ښکاره کړه نو اوئې فرمائیل: ”جبرئیلِ امین ماته

اووئيل: آيا تاسو دا خبره نه خوشحالوي چې الله پاک فرمائي چې څوک په تاسو باندې دُرُودِ پاک وائي زه به په هغوئې باندې رَحمت نازلووم او څوک چې تاسو ته سلام راليږي زه به په هغوئې سلامتيا ليږم۔“

(مسنداماماحمد، ج 1 ص 406، حديث :11662)

زمانے والے ستائیں، دُرودِ پاک پڑھو     جہاں کے غم جو رُلائیں، دُرودِ پاک پڑھو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

حضرتِ ابنِ عبّاس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ (د نيکئ د دعوت ورکولو او د ګناهونو نه د ويرولو د پاره) ارشاد فرمائي چې: اے ګناه کولو والا! ته ”د بَدې خاتِمې“ نه بے ويرې کيږه مه او چې ته کله يوه ګناه اوکړې، نو د هغې نه پس د هغې نه غټه ګناه مه کوه، د خپل ښي او ګس اړخ د فرښتو نه په حيا کښې کمے راوستل د هغه ګناه نه غټه ګناه ده کومه چې تا اوکړه، او په ګناه باندې ستا خوشحاليدل د دې نه هم غټه ګناه ده حالانکه تاته دا پته نشته چې الله پاک ستا سره څه سلوک کوونکے دے، او په يوه ګناه باندې ستا غمژن کيدل د دې نه هم غټه ګناه ده او ته (څومره نادان ئې چې په پته) ګناه (يا بدکاري) کوې نو چې د دروازې پرده لړې شي نو

ويريږي خو ستا زړه د دې نه نه ويريږي چې الله پاک تاته ګوري- ستا (د الله نه د نه ويريدو) دا عمل د دې نه هم غټه ګناه ده-

(تاريخ ابن عساکر، ج 10 ص 60۔ جمع الجوامع ج 15 ص 105، حديث:12462)

سِلسلہ آہ! گناہوں کا بڑھا جاتا ہے | نِت نیا جُرم ہر اک آن ہوا جاتا ہے

امتحاں کے کہاں قابِل ہوں میں پیارے اللہ | بے سبب بخش دے مولیٰ ترا کیا جاتا ہے

(وسائلِ بخشش ص126 )

## د ګناه په باره کښې د نيک او بد خپل خپل کيفيت (حالت)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت ابنِ عبّاس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خومره په ښه انداز کښې د نيکۍ دعوت ارشاد فرمائيلے دے! واقعي ده چې ګناه بيا هم ګناه ده د دې نه بچ کيدل پکار دي د الله پاک نيک بنده ګان د دې نه ډير زيات ويريږي، خو د ګناهونو عادت لرونکي خلق د دې لږه شان پرواه هم نه کوي لکه څنګه چې په "بخاري شريف" کښې د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " مؤمِن خپلو ګناهونو ته په دې انداز سره ګوري لکه هغه چې د يو غر لاندې ناست دے او د هغه سره ويره ده چې هسې نه چې دا غر د هغه د پاسه راپرې نه وځي ولې د فاسق او فاجِر په نز د ګناهونو معامله داسې ده لکه يوه مچۍ د هغه په پوزه باندې کښيناسته او هغه د لاس په اشاره باندې والوځله-"

(بخارى ، ج 4 ص 190، حديث:6308)

## د ميلو او شادو (بيزو) تماشه کول حرام کار دے

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د حضرت ابنِ عبّاس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د نيکئ د دعوت په ورکولو کښې د ګناه په پاتې کيدو د غمژن کيدو په باره کښې هم ذِکر دے، دې لړ کښې د دعوتِ اسلامي د مکتبۃُ المدينه د کتاب ''ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت (561 صفحات)'' په صفحه نمبر 286 باندې ورکړے شوے د عبرت نه ډک ''مدني ګل'' اوګورئ: اعلیٰ حضرت، اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه امام اَحمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي چې: د ناجائزه څيز تماشه کول هم ناجائزه کار دے، شادو (بيزو) ګډَوَل حرام کار دے، د دې تماشه کول هم حرام کار دے- په دُرِّ مُختار او حاشِيَهٔ علّامه طحطاوي کښې د دې مسئلو واضحه بيان دے- نن سبا خلق د دې (حکمونو) نه غافله دي- متقيان خلق خوک چې د شريعت ډير خيال ساتي، په ناواقفئ سره د ميلو يا شادو (بيزو) تماشه يا د چرګانو ساتل (يعني د ترکيب سره د چرګانو جګړه) نه ګوري او نه د دې نه خبر وي څکه چې په دې باندې ګنهګاريږي- په حديثِ پاک کښې ارشاد دے چې ''که چرې د خير څه مجمع (يعني د نيکئ اجتماع وغيره) وي او خوک هلته لانړو او په خبر ميلاويدو باندې هغه افسوس اوکړو نو هغه همره ثواب به ئې کيږي څومره چې د حاضر شوؤ خلقو کيږي او که چرې مجمع د شر (يعني د

ګناه مجمع مثلاً د سندرو باجو پروګرام) وه هغه په خپلو نه تللو افسوس اوکړو نو چې کومه ګناه د هغه حاضِرو خلقو وي هغه به د ده هم (وي)-“

مولیٰ مجھ کو نیک بنادے اپنی اُلفت دل میں بسادے
بَہرِ صَفا اور بَہرِ مَروہ یااللّٰہ مری جھولی بھر دے

(وسائلِ بخشش، ص107)

## د خلقو په مخکښې د ”نیک جوړيدو“ والا د قبر حال

حضرت ابراهيم تَيمِي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ (د اخلاص په باره کښې د نيکۍ دعوت ورکوي او ارشاد) فرمائي: چې زه به د مرګ او د خپلې خاتِمې يادولو د پاره هديرې ته ډير زيات تللم، يوه شپه په هديره کښې ما له ډير زيات خوب راغلے (او اوده شوم) او ما په خوب کښې اوليدل چې يو قبر برسيره شو او آواز راغلے: ”دا زنځير اونيسئ او د ده خُلې ته ئې دننه کړئ او د ده په شاته شرمګاه ئې راوباسئ-“ نو هغه مَړے (ويريدو) او اوئې وئيل: ”اے کريم رَبَّه! آيا ما به قرآنِ نه لوستلو؟ آيا ما به د بيتُ الله حج نه کولو؟“ دغه شان پرله پسې هغه خپلې نيکۍ بيانولې نو آواز راغلے: بے شکه تا خو به د خلقو په مخکښې دا عملونه کول خو چې کله به يواځې وې نو د نافرمانو په ذريعه به دې زما سره د جنګ اعلان کولو او زما نه به نه ويريدلې-

(الزواجر عن اقتراف الكبائر، ج 1 ص31)

مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو
کر اخلاص ایسا عطا یاالٰہی

(وسائلِ بخشش، ص78)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ويريږئ! ويريږئ او توبه کړئ!! دلته هغه نيک لمونځ ګزاره او په ظاهره د سُنّتو عادت لرونکي اسلامي وروڼه دي هم عبرت حاصل کړي ځوک چې د ټولو په مخکښې صرف خلقو ته د ځان ښودلو د پاره فرض خو فرض دي نفل هم ادا کوي خو چې يواځې شي نو په عمل کښې د غفلت نه کار اخلي، د نيک ښکاريدو د پاره خو په عوامو کښې د ښه اخلاقو نمونې جوړيدو، هر يو ته د احترام په وجه د ښکته کيدو سره سلام کوي او په " جي جناب" سره مخاطِب کيږي خو په کور کښې د "ازمري په شان غړمبيږي، ښه په زوره او د زړه آزارولو خبرې کوي بلکه د وهلو ټکَوَلو نه هم ډډه نه کوي-

چھپ کے لوگوں سے کئے جس کے گناہ  وہ خبردار ہے کیا ہونا ہے

(حدائقِ بخشش، ص 167)

شرحِ کلامِ رضا: په دې شعر کښې اعلىٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د نيکۍ دعوت ورکوي او فرمائي چې: اے ګناه کولو والا! تا خو د خلقو نه خپل ګناهونه پټ کړل، خو دا دې هير کړل چې د کوم پروَرِدګار نافرمانۍ دې کړې دي هغه ستا د دې کارنامو نه خبر دے- آه! اوس به په محشر کښې ستا سره څه کيږي! د ځان ښودلو عملونو نه توبه کړئ، الله پاک توبه قبلوونکے مهربانه دے، د مکتبةُ المدينه د کتاب "جهنم ميں لے جانے والے اعمال" په (جلد 2) صفحه 866 نه 867 باندې دي: د تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: "په ګناه باندې پښيمانه کيدونکے د الله پاک

د طرف نه د رحمت انتظار کوي او په ګناهونو باندې نه پښيمانه کيدونکے د خفګان انتظار کوي او د الله پاک بنده ګانو! ياد ساتئ! ډير زر به (ښه يا بد) عمل کوونکے د خپل عمل په وجه باندې مخکښې ځي او د دنيا نه د تللو نه مخکښې به د خپل ښه او بد عمل بدله اووينې او د عملونو دار او مدار په خاتِمو باندې دے او ورځ او شپه دوه سورلۍ دي ځکه د دې په ذريعه د آخِرت په لور ښه سفر اختيار کړئ او په توبه کښې د ځنډ نه د کار اخستو نه ځان ساتئ، ځکه چې مرګ ناڅاپه راځي او په تاسو کښې دې څوک هم د الله پاک د حِلم (يعني نرمئ) نه هيڅکله هم په دهوکه کښې نه اوسيږي، بے شکه اور په تاسو کښې د هر يو د پيزار (بوټ) د تسمې نه هم زيات نزدې دے۔" بيا شهنشاهِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا (يعني د 30 سيپارې د سورة الزلزال اووم او اتم) آيتونه مبارک تلاوت اوفرمائيل:

فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ۝ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ۝

"ترجمهٔ کنزُ الايمان: بس څوک چې د يوې ذرې همره نيکي اوکړي هغه به اووينې او څوک چې د يوې ذرې همره ګناه اوکړي هغه به اووينې۔"

## په ګناهونو باندې د پښيمانه کيدو نوم توبه ده

د الله پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَلنَّدَمُ تَوْبَةٌ يعني (په ګناه باندې) پښيمانه کيدل توبه ده۔ (ابن ماجه،ج 4 ص 492 ، حديث:4252)

## د پښېمانه کېدو وَضاحت

يعني شرمېدل او پښېمانتيا د توبې يو ډېر غټ رُکن دے لکه څنګه چې په حديثِ پاک کښې دي: ” حج د وُقُوفِ عَرَفه نوم دے-“ (ترمذی، ج 2 ص 254،حديث :890 ) په پښېمانتيا کښې دا هم ضروري ده چې هغه نافرماني، د هغې قباحت (يعني بد کېدل) او د آخِرت د وېرې د وجې نه وي نه چې د دنيا د بے عزتئ يا په ګناه کښې د مال د ضائع کېدو د وجې نه وي-

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”الله پاک د يو بنده په ګناه باندې پښېمانه کېدو ته ګوري او د هغه د توبه کولو نه مخکښې هغه معاف کوي-“ (مستدرک، ج 5 ص 360، حديث:7721)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اولياؤ زړو خادِمانو په دِله کښې تلونکې حُوره

خوېندو او محترمو اسلامي وروڼو! کوم خوش قِسمته چې په خپلو نيکو باندې غټېږي نه، د الله پاک بے نيازي نه هېروي، د نيکو کولو باوجود د اِخلاص په کمي وېرېږي او اوښکې توئيوي هغه کامياب دے، د الله پاک په رحمت باندې به په خندا خوشحالئ جنَّت ته ځي- د جنَّت په آرمان کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو زده کولو ښودلو په مدني قافلو کښې سفر اوکړئ- د ”نيک اعمال“ مطابق عمل اوکړئ او د نيکئ دعوت ښه ډېر ورکوئ- د نيکئ د دعوت ورکوونکو هم خومره ښکلے شان دے چې د جنّت عظيم الشانه حُورې د هغوئي انتظار کوي حضرت امام ابو حامد

محمد بن محمد بن محمد غَزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نقل کوي چې: حضرت ابو هُريريه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي چې: په جنَّت کښې يوه حُوره ده کومې ته چې ”عَيناء“ وئيلے شي، کله چې هغه روانه وي نو د هغې ښي او ګَس اړخ ته 70 زره خادِماني رواني وي، هغه حُوره وائي چې: د نيکئ حکم کوونکي او د ګناه نه منع کوونکي چرته دي؟

(احياء العلوم،ج 5 ص310)

## د حُورو په باره کښې د مصطفٰے ﷺ درې فرامين

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مرحبا! د نيکئ د دعوت ورکولو والا مرتبه خومره اوچته ده چې د عَيناء په شان عظيم الشانه حُوره په جنَّت کښې د هغه انتظار کوي! ”حُورې“ هم د الله پاک خومره ښکلے مخلوق دے! دې لړ کښې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې فرامين اوګورئ:

(1) د جنّتي ښځو د سر لوپټه د دُنياوَمَافِيۡهَا (يعني په دنيا او په دې کښې چې څه دي) نه بهتره ده (بخاری،ج 2 ص252 ، حديث :2796)

(2) هر يو جنّتي ته به په غټو غټو سترګو والا حورو کښې دوه ښځې داسې ميلاويږي چې 70 جوړې به ئې اغوستې وي بيا به هم په هغه جامو او د غوښې نه بهر د هغوئې د زنګونانو نَلي ښکاري لکه په سپينو شيشو کښې چې سرۀ شراب ښکاري (معجم کبير ، ج 10 ص 160،حديث :10321)

(3) د ادنٰی جنَّتي سره به د دنيا د ښځو نه علاوه 72 حُورې وي۔

(مسند امام احمد، ج 3 ص 640، حديث:10932)

## سړي ته به حُورې ميلاويږي جنَّتي زنانه ته به څه ميلاويږي؟

سوال: جنَّتي سړي ته به حورې ميلاويږي، د جنَّتي زنانه د پاره به څه تركيب وي؟

جواب: کوم ښځه خاوند چې جنَّت ته لاړ شي هغوئي به هلته هم يو ځائے وي او د کومې ښځې خاؤند چې مَعاذَ الله دوزخ ته لاړ شي نو د هغې نکاح به د يو جنَّتي سړي سره کولے شي-

## د کم عمره ماشوم په جنَّت کښې نکاح

سوال: کم عمره ماشوم چې جنَّت ته لاړ شي نو د هغه به هم نکاح کيږي؟

جواب: آؤ جي- حضرت اِمام احمد بن حجر مکي شَافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: کم عمره ماشوم به په حشر کښې په دنيائي عمر او وجود کښې راپاڅولے شي بيا جنَّت ته د تللو په وخت به د هغه وجود غَټَوَلے شي او هغه به د بالغ په شان جنَّت ته ځي او د دنيائي ښځو او حُورو سره به د هغه نکاح کولے شي- (فتاوىٰ حديثيه، ص245)

## د واده نه کولو بغير د وفات کيدونکي نکاح

سوال: کوم مسلمان نارينه او زنانه چې د واده کولو نه بغير د دنيا نه رُخصت شوي وي آيا د هغوئي به هم د نکاح کولو څه صورت وي؟

جواب: د کومو نارينوو يا زنانوو چې په ټولو عمر کښې نکاح نه کيږي د هغوئي به هم د يو بَل سره په جنَّت کښې نِکاح کولے شي-

## جنَّتي ښځې غوره دي که حُورې؟

سوال: د دنیا جنَّتي ښځې غوره دي که حُورې؟

جواب: د دُنیا جنَّتي ښځې د حُورو نه غوره دي- د "طِبراني" په یو اوږد حدیثِ پاک کښې دا هم دي چې: اُمُّ المؤمِنين حضرت اُمِّ سلمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا عرض اوکړو: "یَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د دنیا ښځې غوره دي که غټو سترګو والا جنَّتي حُورې؟" نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: "د دنیا ښځې د غټو سترګو والا جنَّتي حورو نه غوره دي-" ما عرض اوکړو: یَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! په څه وجه؟ نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: "دا د دوئي د لمونځونو او روژو او د الله پاک د عبادت په وجه دي-" (معجم کبیر، ج 23 ص 367، حدیث :870) په یو بَل حدیثِ پاک کښې دي: د دنیا جنَّتي ښځې د حُورو نه 70 زره درجې غوره دي- (التذکرۃ باحوال الموتی، ص458) جلیل القدر تابعي حضرت حِبان بن اَبُو جبله رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي چې: د دنیا هغه ښځې کومې چې به جنَّت ته ځي د خپلو نیکو کارونو په وجه به د جنَّت د حورو نه غوره وي-

(تفسیر قرطبی، 113/16)

## د زیاتو خاوندانو والا به په جنَّت کښې د چا سره وي؟

سوال: د مخکښیني خاؤند په وفات کیدو یا د طلاق وغیره شکل کښې چې یوې زنانه د یو نه زیات ودونه کړي وي هغه به په جنَّت کښې د کوم یو خاؤند سره وي؟

جواب: که چرې يوه زنانه پرله پسې د يو نه د زياتو سړو په نکاح کښې راغله نو د يو قول مطابق د کوم په نکاح کښې چې د ټولو نه په آخِره کښې راغلې وي په جنّت کښې به د هغه سره وي- لکه څنګه چې د حضرت ابو الدَّرداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې د نبيانو د سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”چې د ښځې نکاح به د خپل هغه خاوند سره کولے شي کوم چې په دنيا کښې د هغې د ټولو نه آخِري خاوند وو-“ (مسند الشامیین للطبرانی، ج 2 ص 359، حدیث: 1496) دويم قول دا دے چې د چا اخلاق ښه وي هغه ته به ميلاويږي لکه څنګه چې اُمُّ المؤمِنين حضرت اُمِّ سلمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! بعضې ښځې په دنيا کښې د دوؤ، دريو يا څلورو خاوندانو سره (پرله پسې) وَدونه کوي، بيا هغوئي په جنّت کښې يو ځائے شي نو هغه ښځه به د چا د پاره وي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: هغې له به اختيار ورکولے شي او د کومې د خاوند اَخلاق چې په دنيا کښې د ټولو نه ښه وي هغه به هغه اختياروي (يعني د هغه سره به نکاح کوي) هغه به وائي: اے زما رَبّه! زما د دې خاوند اخلاق د ټولو نه ښه وو ځکه د ده سره زما نکاح اوکړئ- (معجم کبیر، ج 23 ص 367 حدیث:870) په دې دواړو حديثونو او قولونو کښې هيڅ تعارُض (يعني د يو بَل مخالفت) نشته-

لکه څنګه چې حضرت امام احمد بن حجر مکي شافعي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي چې: کومې زنانه چې پرله پسې ډير ودونه (نکاح کاني) کړي وي نو يو شکل دا دے چې هر خاوند هغې له طلاق ورکړے وي او کله چې هغه وفات شوه نو د چا په نکاح کښې نه وه نو صرف په هغه حالت کښې به

هغې له اختيار ورکولے شي او د کوم خاؤند اخلاق چې په دنيا کښې د تولو نه ښه وو هغه ته به ميلاؤيږي- لکه څنګه چې د حضرت اُمّ سلمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا په حديث کښې ذِکر دي- او دويم شکل دا دے چې هغې ډير ودونه (نکاح ګانې) کړې وي او آخِري خاؤند هغې له طلاق نه وي ورکړے او هغه د هغه په نکاح کښې وفات شي نو په دې شکل کښې به هغه په جنَّت کښې د آخِري خاؤند په نکاح کښې وي لکه څنګه چې د حضرت ابو الدَّرداء رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په حديث کښې دي- (فتاوى حديثيه، ص70، 71 ملخصا)

اخلاق ہوں اچھے مِرا کردار ہو ستھرا　　محبوب کا صدقہ تو مجھے نیک بنادے

(وسائلِ بخشش، ص 103 )

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خلقو له فائده ورکوئ

د حضرت جابِر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې د سُلطانِ مکۀ مکرَّمه، تاجدارِ مدينۀ منوَّره صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د مُؤمِن سره مينه کولے شي او په هغه (کَس) کښې څه خير نشته څوک چې نه د چا سره محبت کوي نه د هغه سره محبت اوکړے شي او په خلقو کښې بهتر هغه دے کوم چې خلقو ته فائده اورسوي- (شعب الايمان، ج 6 ص 117، حديث: 7658)

## ډاکوانو ټول بَس لوټ کړو خو زه ئې پرېښودم

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نیکانو بنده ګانو سره خلق محبت کوي تر دې پورې چې بعضې وخت ډاکوان هم د نیکانو بنده ګانو احترام کوي او د هغوئې د لوټ کولو نه ډډه کوي ، په ګیره، زُلفو ښائسته د سُنتو ډک جامو اچوونکي په سر د عمامې (پټکي) تړونکي د دعوتِ اسلامي د یو مبلغ څوک چې د ''نیک اعمال'' عامِل کیدو سره سره په تنظیمي طور د دې ذِمه وار هم دے- د هغه څه داسې بیان دے چې یو ځل زه په جیب کښې د ډېر زیات رقم ساتلو سره د حیدر آباد (سندھ، پاکستان) نه کراچۍ ته د راتلو د پاره په بس کښې کښیناستم- بس لا اوس په مشکله نیمه ګهنټه سفر کړے وو چې ناڅاپه د مختلفو سیټونو نه څلور پینځه کَسان راپاڅیدل او یو دم ئې وسله رابهر کړه او اودریدل- په هغوئې کښې چې کوم لوړ دَنګ کَس وو هغه ډرائیور له په مخ ښه درنه څپیړه ورکړه او هغه له ئې دیکه ورکړه او د ډرائیور په سیټ پخپله کښیناستو، بس ئې یوې کچې لارې ته کوز کړو، اوس ډاکوانو په روان بس کښې د هر یو تالاشي شروع کړه او لوټ کول ئې شروع کړل- په بس کښې ډېر د ویرې تَرَخې ماحول وو، زه هم سخت ویریدلے ووم، زما نه په مخکښې سیټ باندې یو مضبوط لوړ دَنګ ځلمے ناست وو او ما سره اندیښنه وه چې هسې نه چې دا د ډاکوانو خلاف مُزاحمت اوکړي او هغوئې ګولۍ اوروي-

بهر حال ما احتیاطاً د ایمان تازه کولو نه پس سترګې پټې کړې، زما په خوا کښې چې کوم کَس ناست وو یو ډاکو د هغه تالاشي واخستله او څه چې

په لاس ورغلل لوټ ئي کړل- خو ما له ئي هډو ګوتې را نه وړې، بل ډاکو راغلے هغه هم د هغه ګس تالاشي واخسته، د هغه د جيب نه ئي نور د 100 روپو نوټ راويستو هغه ئي هم واخستو او زما نه هم دغه شان روان شو، دريم ډاکو زما طرف ته اشاره اوکړه او آواز ئي ورکړو چې مولانا صاحب مه لوټ کوه، دا ئي چې اوليدل نو زما نه په شاته سيټ باندې ناستې يوې سورلۍ موقع بياموندله او د خپل رقم ګټه ئي زما په کُرته کښې ورکړه، يوې زنانه د وروستو نه د سرو زرو لاکټ لاندې زما د خپو طرف ته راګزار کړو (د دې پته ماته ډيره وروستو اولګيده) بهر حال ډاکوان د لوټ مار کولو نه پس د بَس نه کوز شول او اوتختيدل- اوس د بَس لوټ کړے شوؤ سورلو چغې، درز غوبل او انګولا شروع کړه، چا زما طرف ته اشاره اوکړه او په زوره ئي اووئيل: دا مولانا اونيسۍ داسې ښکاري چې دا د ډاکوانو ملګرے دے ځکه چې مونږ ټول ئي لوټ کړو او دا ئي لوټ نه کړو، زه ويريدم چې اوس خو لاړې! دا خلق ما اونه وهي، ناڅاپه غيبي مدد څه داسې راغلے په هغه مسافرو کښې يو ګس څه داسې اووئيل: نه نه ورونړو! دا شريف انسان دے، د ده جامو او مخ ته نه ګورئ! بس د هغه نيکي په مينځ کښې راغله او بچ شو، مونږ ګنهګار خلق يو، مونږ ته د ګناهونو سزا ميلاؤ شوې ده-

## د ډاکوانو نه د حفاظت راز

د هغه اسلامي ورور نور بيان دے: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ورومبے د ډاکوانو نه بچ کړے شوم او بيا د لوټ کړے شوؤ مسافرو د طرف نه راغلې ويره لرې شوه- دا د

دعوتِ اسلامي د ديني ماحول د برکت ”مدني سپرلے“ دے چې ګيره، زلفې او پټکے شريف مې په سر کړے وي او د سُنّتو په ډکو جامو کښې ګرځم ګرځې کيدے شي چې زه هم په بے دردۍ سره لوټ کړے شوے وے- ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې به ما ځان ماډرن ساتلو او په سټيج ډرامو کښې به مې کار کولو- د الله پاک او د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم اوشو ما ګنهګار ته دعوتِ اسلامي د توبې لار راوښودله، لمونځ ګزاره ئې جوړ کړم، په سُنّتو ئې برابر کړم، د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په سلسله کښې ئې د مُريد جوړيدو شَرف راکړو، د نيک جوړيدو نُسخې يعني ”نيک اعمال“ عامِل او د خپل پير صاحب د طرف نه د ميلاؤ شوې شجرهٔ قادِريه رضويه“ څه نا څه اَورادو لوستلو والا ئې جوړ کړم په کومو کښې چې يو وِرد دا هم دے: بِسْمِ اللّٰهِ عَلٰى دِيْنِىْ بِسْمِ اللّٰهِ عَلٰى نَفْسِىْ وَوُلْدِىْ وَاَهْلِىْ وَمَالِىْ يعني د الله پاک د نوم په برکت سره دې زما د دين، ځان، اولاد او آل او مال حفاظت وي- (ترجمه لوستل ضروري نه ده، اوّل او آخِر يو ځل درود شريف اولولئ) فضيلت: دا دُعا چې څوک هره ورځ سحر او ماښام درې درې ځله اولولي د هغه دين، ايمان، ځان، مال، ماشومان ټول به محفوظ وي- (اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زه هره ورځ سحر او ماښام دا وِرد لولم، دا زما ښه ګمان دے چې د ډاکوانو نه حفاظت د الله پاک په رحمت سره د دې وِرد په برکت شوے دے- چې په دنيا کښې د دې فائده ده نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د مرګ په وخت به ايمان هم سلامت وي- زما ټولو اسلامي ورونړو او اسلامي خوئيندو ته مَدَني خواست دے چې د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن هر وخت

اونيسئ او د مکتبۃُ المدينه ”نيک اعمال“ رساله حاصله کړئ او د هغې مطابق د ژوند تيرولو کوشش کوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!په دواړو جهانونو کښې به کامياب ئې-

## د سحر او مانښام تعريف

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! تاسو اوکتل! د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول هم څه ښکلي مَدَني سپرلي دي! د ذِکر شوي وِرد وختونه يعني ”سحر او مانښام“ په تعريف هم ځان پوهه کړئ، په شجرهٔ قادِريه رضويه صفحه 10 باندې دي: د نيمي شپې تيريدو نه د لمر د وړومبۍ سِرې پورې ”سحر“ دے- په دې ټول وخت کښې چې څه اولوستےشي هغې ته به په سحر کښې لوستل وئيلے شي او د ماسپخين د وړومبي وخت نه تر د لمر پريوتو پورې ”مازيګر“ دے- په دې ټول وخت کښې چې څه لوستلے شي هغې ته به په مازيګر کښې لوستل وئيلے شي-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتاب ”نيکی کی دعوت“ مضمون دلته ختم شو-

## د امیرِ اهلِسُنَّت بهر ملک ته رواني (ضرورتاً د څه بدلون سره)

په 8 صفر المظفر 1444 هجرئ بمطابق د 5 ستمبر 2022 په شپه په مدني چينل باندې پاکستان کښې د اوسنو سيلاب ځپلو د دعوتِ اسلامي په

خدمتونو باندې مشتمل پروګرام  په نوم"مدد کی گھڑی ہے" کښې شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه شرکت اوکړو، د دې نه پس هغوئي په سچل ګوټهـ (کراچۍ) کښې د FGRF د لاندې د سیلاب ځپلو امدادي کیمپ ته تشریف یوړو او هلته ئې د موجودو د دعوتِ اسلامي د ذمه وارانو حوصلې اوچتې کړې او ښه دُعاګانې ئې اوکړې- د کور نه د روانیدو په وخت په ګاډي کښې د کښیناستو نه پس د هغوئي لمسي حاجي اُسید رضا عطاري (سلّمهُ الباري) د سفر دعا اوکړله او بیا د معمول مطابق د توبې او د ایمان د تازه کولو سلسله اوشوه او هغوئي څه ښه ښه نیتونه هم اوکړل- په خبرو اترو کښې د مرګ په یادولو باندې هغوئي یوه ډیره عبرت ناکه جمله ارشاد اوفرمائیله: " ځلمے لاړ شي او بوډا پاتې شي خو تر څو پورې به بچ ګرځي یوه ورځ ټولو له مرګ راتلونکے دے-" لږ وخت پس هغوئي په تنده لګیدو د اوبو څکلو نه مخکښې دعا اولوستله او بیا ئې اوبه اوڅکلې-

چونکه د امدادي کیمپ نه فوراً پس د بهر ملک فلائټ وو او وخت کم وو په دې هغوئي لږه اندیښنه ښرګنده کړه او د تادئ په وجه امدادي کیمپ ته د تلونکې راتلونکې یو مسلمان چې زړه آزار نه شي- چې کیمپ ته اورسیدو نو هلته د سندهـ حکومت د طرف نه غالباً یو سندهي ماډرن ځلمي د خپلې یوې ادارې نوم واخستو او عرض ئې اوکړو: زه ستاسو په تشریف راوړو ستاسو مننه کووم په دې باندې هغوئي د هغه سره شفقت اوکړو او دین ته د نور نزدې کولو د پاره ئې اوفرمائیل: زه تاسو ته د

”مدیني تَسبې“ په ډالۍ کښې درکووم او بیا ئې د جیب نه د مدینهٔ پاک تَسبې راویستلې او هغه له ئې ورکړې- د دې نه پس د ائیر پورټ سفر شروع شو، هغوئې په ائیر پورټ باندې د کوزیدو نه مخکښې ارشاد اوفرمائیلو: ”اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! د ربیعُ الاوّل شریف میاشت په کراچۍ کښې د لیدو نیت دے، بیا به د 12 شپو د مدني مذاکرو سلسله وي-“ (په 13 شپه هم لنډه مدني مذاکره کیږي-)

اے عاشقانِ رَسول! امیرِ اهلِسُنَّت ”یادګارِ اسلاف“ دے- یعني د هغوئې د هر قول او فعل نه د بزرګانِ دین رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْهِم یاد راځي لکه چې د هغوئې په دې لنډ جدول (Schedule) کښې ښه ښه نیتونه واخلئ-

په سوؤنو کاله وړاندې یو بُزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: زه په هر یو کار کښې نیّت خوښووم تر دې پورې چې د خوراک څښاک، اوده کیدو او واش روم ته د تللو د پاره هم- (احیاء العلوم، ج 4 ص 126)

واقعي ده د امیرِ اهلِسُنَّت صحبت ډیر لوئې ”نعمت“ دے- تاسو هم په مدني مذاکرو کښې شرکت خپل معمول جوړ کړئ- الله پاک! دې امیرِ اهلِسُنَّت ته د خیر سره ډیر ژوند ورکړي-

اٰمِیْن بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مُرشدی عطار پر! نور کی برسات ہو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیك او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کېدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربيّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com